(٤) صفحه

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبرمسلسل (١٣٠٤)سال نزدهم شماره(٢١٢)پنجشنبه (٢٠)جدی ١٣٧٥هـ ، ش(٣٠)شعبان المعظم ١٤١٧هـ ق(٩)جنوری ١٩٩٧م

مسعود له «خاور» مجلی سره په مرکه کی :

منتظریم چی طالبان بدنام شی اومونږ د کاری گوزار زمینه وموموو

پاکستان د افغانستان په کورنیوچاروکی مداخله کوی اوزه به په مناسب وخت کی درس ورکړم

دوشنبه - د جدی ٩ مه : انجنیراحمدشاه مسعود د تاجکستان د «خاور» مجلی له خبریال سره په پنجشیرکی په خپله مرکه کی ویلی چي : «زه د کابل د نیولو په باره کی دی ته منتظریم چی طالبان په افغانی ټولنه کی د خپل سیاست په وجه بدنام شی او دولس

پاتی (٤) مخ (٥) ستون

طالبان لویه جرگه راغواړی

اوسنی اداره موقتی ده،طالبان مسلکی کسانوته دحکومتی چارو سپارلوته تیاری ښیی

د ملامحمد عمرله موقفه پرته په نورو ټولو پوستونو تفاهم کولای شی

د ظاهرشاه احتمال تر هروخت اوس زیات کمزوری شوی دی

دځینومهمو بهرنیو ادارو تحلیل دا دی چی د راتلونکو دوو میاشتو ترپایه په شمال کی د طالبانو په گټه بدلون راځی

دجوند او غورماچ نیول د مزار په خوا د طالبانو لپاره د دروازو پرانیستل بلل کیږی

طالبانو ته د ایران د تجربی د کاپی کولو مشوره ورکوله کیږی او د دی لپاره ذهنیتونه اوارشوی دی

کویټه - دجدي ١٩ مه : یوي باوري منبع شهادت ته وویل چي طالبان دلوئي جرگي دراغوښتلو لاري غواړي دافغانستان راتلونکي حکومت وټاکي . منبع وویل چي د افغانستان دحالاتوپه ارتباط دمطرحي او دخپلي یوي مهمي بهرني اداري تحلیل دادي چي دراتلونکو دوومیاشتو (سلواغي اوکب) ترپایه په شمال کي دطالبانو په گټه بدلون

پاتی (٤) مخ (٥) ستون

الهی لارښوونی

ال م

یقیناً هغه کسان چي پټوي هغه څه چي الله له کتاب څخه نازل کړي او په هغه سره کمه بیه اخلي دا ولله په خپلو گیډوکي نه خوري نه اچوي مگراور اوالله به دقیامت په ورځ ورسره خبري ونکړي اونه به ئي پاك کړي اودوي لره دردونکي عذاب دي . دا (هماغه) وله ده چي بي لارې توب ئي په هدایت واخستلواو عذاب په بخښنې . نو (عجیبه ده چي) څه شي په اوریاندي (داسې) صبرکوونکي کړه . دادي لپاره چې بیشکه الله داکتاب په حقه نازل کړي اویقیناً هغه چي په کتاب کي اختلاف کوي حتماً په لري بیلتون اواختلاف کي دي . ښیگڼه دانده چي خپل مخونه ختیځ اولویدیځ ته واړوي اوبرعکس ښیگڼه داده چي چاپه الله ایمان راوړو اودآخرت په ورځي اوپه ملائکواوپه کتاب اوپه انبیاوو او مال ئي سره دمینې ئي خپلوانو اویتیمانو اومسکینانو اومسافرانواوسوال کوونکوته دغاړوپه (خلاصون) کي ورکړ (مصرف کړ) اولمونځ ئي قائم کړ اوزکات ئي ورکړ - او وفاکوونکي په خپلوژمنوچي کله عهدوکړي اوصبرکوونکي په سټونځواوکړاوونو اودجگړي په وخت کي داهماغه وله ده چي رښتیائي وویل او دوي همدادوي متقیان دي .

چندتن از دیپلومات های امریکایی پس از سفر به کابل وقندهار دوباره به پشاور برگشتند

امریکا ترجیح میدهد باهمه گروه ها در تماس باشد وازگروه مشخص حمایت وجانبداری نکند

عامل ادامه بحران افغانستان مداخله خارجی میباشد

پشاور - ١٩ جدي : یك هیئت امریکائي تحت ریاست جان هولزمن معاون سفارت امریکادراسلام آباد پس از سفر بـه شهرهاي کابل وقندهار ومذاکره باسران طالبان دوباره به پشاور مواصلت کرده است .

بقیه درستون «٤» صفحه «٤»

دحصارك په ولسوالی کی (٤) پخوانی قوماندانان له طالبانوسره یوځای شول

قوماندان سیدالرحمن، محمد وزیر،حسن خان او الماس خان تولي وسلي طالبانوته سپارلي

جلال آباد - دمرغومي ١٧ مه : دننگرهار ولایت دحصارك په ولسوالي کي ٤ پخواني قوماندانان له طالبانو سره یوځاي شول . دشریعت غږ رادیو دریوټ له مخي دغه قوماندانان هریو سیدالرحمن ، محمدوزیر، حسن خان اوالماس خان له خپلوافرادو اووسلو سره یوځاي په دغه

پاتی (٤) مخ (٥) ستون

فراگیری تعلیم زنان به فیصله نهایی شورای عالی طالبان در قندهار بستگی دارد

ملا نیك محمد مطمئن

جلال آباد - ١٩ جدي : تازمانیکه شوراي عالي طالبان درقندهار راجع به تعلیم دختران درادارات تعلیمي فیصله اي صادرنکند، زنان افغان حق تحصیل در مراکز تعلیمي افغانستان راندارند .

ملانیك محمد مطمئن یکتن از مسئولان طالبان در ولایت ننگرهار

بقیه صفحه (٤) ستون (٣)

استاد سیاف په تالقان کی استاد ربانی ته :

خپل جهاد خودی خرڅ کړ، د تاجکستان دی هم پرینښود

ویره دردونکی ده چي د یوه عظیم جهاد د مشرتابه مدعی، د یوه نهضت دارمانونوخون دلالی وکړی

استادرباني

استاد وسیاف

تالقان - دجدي ١٩ مه : یوي باوري منبع دښهات ځانگړي خبریال ته پرون وویل چي څووړځي دمخه په تالقان کي دغونډي په ترڅ کي داستاد«رباني» اواستادسیاف ترمنځ هغه وخت شدید لفظي تر بخوالي راغي چي کله استادسیاف دتاجکستان داسلامي نهضت اومجاهدینو په باره کي داستاد رباني په دریځ باندي توند انتقادوکړ اوپه

پاتی «٤» مخ «٦» ستون

پاکستان (١٢٩) زره پوځیان په راتلونکوانتخاباتی حلقوکی ځای پرځای کوی

جمهور رئیس «لغاری» څو ورځی مخکی پوځ ته دمشورو ورکولو اختیارورکړی

اسلام آباد - مرغومي ١٩ مه : دپاکستان پوځ به ددغه هیواد په راتلونکوانتخاباتو کي په بیلابیلو انتخابي حلقوکي امنیتي تدابیرونیسي . دارنا دخبري آژانس دریوټ له مخي دپاکستان پوځ به دانتخاباتو په دوران کي په بیلابیلو انتخابي حلقوکي خپل

پاتی (٤) مخ (٥) ستون

دافغانستان د بحران د حل په اړه په عشق آباد کی کنفرانس جوړیږی

په کنفرانس کی به د (٥٠) هیوادونواستازی برخه اخلی

د اجندا د جوړولوکار نابرت هول ته سپارل شوی

عشق آباد - دمرغومي ١٩ مه : دڼړیوالوخبري آژانسونو دریوټ له مخي دراتلونکي سلواغي د میاشتي په ٢ مه اودرېمه نیټه به دافغانستان دروان بحران دسوله ایزحل په باب نړیوال کنفرانس دترکمنستان په پایتخت عشق آباد کي جوړیږي .

پاتی (٤) مخ (٢) ستون

امریکاازگسترش تولید اسلحه هستوی ایران ،نگرانی دارد

تهران - ١٩ جدي : ایران قادر به تولید دستگاه انرژي اتومي بوده قرار است کار این دستگاه درکمتر ازسه سال آینده درمنطقه ابوشهراین کشورتکمیل گردد.

روزنامه « تهران تایز» بـه نقل از رضاامروالهي » رئیس مرکز انرژي هستوي ایران نگاشته که این کشور

بقیه درستون «٥» صفحه«٤»

د جنبش یوبل مهم «پهلوان» د خپلمنځی اختلاف ښکار شو

شیرابیگ پخوا د رسول پهلوان دوهم سړی و

د گل محمد پهلوان له خوا په کمین کی و وژل شو

باوری سرچینی دا پیښه د رسول پهلوان له ترورسره بی ارتباطه نه گڼی

میمنه - دجدی ١٩مه : شیرابیگ پهلوان چي په فاریاب کی د جنبش خورا مهم قوماندان واو پروخت د رسول پهلوان دوهم سړی و ، د خپلمنځی اختلاف ښکارشو او په هغه کمین کي ووژل شو چي د رسول پهلوان د وروږ او د فاریاب د اوسنی عمومی قوماندان گل محمد پهلوان له خوا ورته نیول شوی و .

رپوټ وائی چې شیرابیگ پهلوان دیرمشتمدسړی او د شیرین تگاو د ولسوالی و .

رپوټ زیاتوی چي له ده سره ئی شپږتنه ساتونکی هم د پیښی په ځای کی وژل شوی دی اوترقوماندی لاندی قطعی زیات شمیر افرادئی بی وسلی شوی دی .

رپوټ وائی چی باوری سرچینی د شیرابیگ وژل کیدل د رسول پهلوان د ترور له پیښی سره بی ا رتباطه نه گڼی .

کنفرانس کشورهای اسلامی هرچه زودتر کرسی افغانستان را برای طالبان تحویل دهد

دراعلامیه شورای همبستگی با طالبان :

پشاور - ١٩ جدي : شوراي همبستگي افغانستان طي صدور بیانیه اي در پشاور از کنفرانس کشورهاي اسلامي مطالبه گرده که کرسي افغانستان را بـه اداره طالبان تحویل دهد .

مطابق گزارش مطبوعات پاکستان دراعلامیه این شوري که همبستگي

بقیه درستون «٥» صفحه «٤»

درمقابل حملات انتقام جویانه هندو ها علیه مسلمانان خاموش نمی مانم

اندوه وغم ناشي ازشهادت مسجد بابری در قلب مسلمانان به آتش فشان مبدل شده است

دهلی جدید - ١٩جدی : قلب های مجروح شده مسلمان های هند زمانی صحت مند خواهد شد که مسجد بابری دوباره در جای اصلی اش اعمارگردد.

طبق گزارش این مطلب را امام بخاری ، امام مسجد شاهی در دهلی طی سخنرانی اش درمسجد جامع دهلی اظهارداشته است . وی گفته است غم وغصه اي که به اثرشهادت مسجد بابری

بقیه صفحه (٤) ستون (٢)

دملگروملتونوعالی کمشنری لخوادکابل ښارپه (٣٨٦٠) کورنیوژمنی مرستی وویشل شوی

کابل - دمرغومي ١٩ مه : دکابل ښارپه لومړي ناحیه کي په تیرو دوورځوکي پـه ٣٨٦٠ بي وزلو اوستحقوکورنیوباندي دمهاجرینو په چاروکي دملگروملتونودعالي کمشنري لخوا ژمني مرستي وویشل شوي .

دشریعت غږ رادیو دریوټ له مخي

پاتی (٤) مخ (٢) ستون

کلنتن په فارس خلیج کی د امریکا د پوځیانو په ناروغتیا اعتراف وکړ

څه د پاسه (٢٠) زره پوځیان په ناپیژندل شوی ناروغتیااخته شوی

واشنگټن - دمرغومي ١٩ مه : دامریکاجمهوررئیس کلنټن په فارس خلیج کي دامریکا د پوځیانو په ناروغتیا اعتراف وکړ .

پاتی (٤) مخ (٣) ستون

تایوان برای جلوگیری ازحمله چین درسرحداتش میزایل نصب کرد

موشك های نصب شده دارای بورد (١٧٠) کیلومترمیباشد

تاسی پی - ١٩جدی : تایوان برای جلوگیری ازخطرات احتمالی تجاوزچین به آنکشور در سرحدات اش موشك هایي نصب کرده است که میتواند کشتی های جنگی چین را در بحر هدف قرار دهد .

طبق گزارش تایوان قبلاً نیز درسرحدات خود پنج مرکزپرتاب موشك اعمار نموده بود که اعمارمرکزششم تا ماه مارچ سال جاری نیزاختتام میابد ودرنظر است که در آن (١١١) موشك و سکاتی سوه

بقیه صفحه (٤) ستون (٣)

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مؤسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ
تحت نظر هیئت تحریر
تلیفون : (۲٦۲٤۸۷)
آدرس پستی : ۱۰۳٦ یونیورستی تاون -پشاور

دمړو « تبادله » یا « حسن نیت »...!

آبله ورځ دطالبانو یوه مشر اودکابل والـي ملاخـیرالله « خیرخواه » پـه ډېرافتخاروویل چي « دوي بـه ددښمن یوشمیرمړي دحسن نیت په توګه دسره صلیب مامورینوته وسپاري ...»

دامړي وسپارل شول،کـه ونه سپارل شول، شمیرئي لیږاوکه ډېر، دحسن نیت له مخي وو کـه دتبادلي اوياىل هدف په اساس ، مـوږ وربانديي نه غږېږو .

موږ‌راحودي ته چي دامړي څوك دي، دادکوم دین پیروان دي، دادکوم وطن زامن دي، دادکومو میندو اوپلرونو اولادونه دي، دوي ولي جنګیږي ، اوڅه ور په جګړوکي اخته کړاي شوي دي؟ داټولي هغه پوښتني دي چي کـه څوك شعور اودردولري، دیوي جذبي اواحساس خاوندوي او واقعاً مومن اووطن دوست وي نوباید څوابونه یې تن وربېږدوي اوله زړه ئي ویني وڅڅوي .

هغه څوك چي طالبان ئـي خـپل مخالفین ګڼي، اوددوي پرضد جګړه رهبري کوي ، که په هرنامه ئي یادوي، هرعنوان ورکوي اوپرضدئي خپلي جګړي ته هره توجیه طرحه کوي، موږتري دغه تیرېږو، مګر پـه دي کي خوشك نشته چي طالبان ورسره پرون هم پـه «میدانښار» اوه مزار » کي مذاکراتو ته ناست وو اودجوړي جاري کوشش ئي ورسره کاوه اوه سبا » هم، ددغسي څه کیدو احتمال نشي ردیداي .

په دي عـلاوه دجګړي رهبري کوونکي په لسګونواوحتي سلګونوکیلومتره لري ناست دي، هغوي اودهغوي نازولیوته نه دجګړي په تورو مورچوکي، نه دتبادله کیدونکو ګولیو دندوګار رسیږي ، نه دباروتو لوخړي اولمبي اونـه دویښو بویونه . هغوي لکه دطالبانو « دارالامـارت » چي په سلګونو کیلومتره دجګړو لـه کرښو لري ارام اوهوساپروت دي ، همداسي خوندي دي اودېي غمي شپې ورځي تیروي . خودادچاچي دجګړوپه غوبل کي دیوه « پالتواوبي ارزښته مخلوق » او « بي وارثه متاع » پـه څیر سرونه رغړي، دغوښوتوټي ئي له باروتوسره لوبي کوي اووینې ئي دلښتیو په شان بهیږي، هغوي بل څوك دي. هغوي ددي وطن هغه بې خولې اوبي ژبي مجبورزامن دي چي دجګړي دګرته دپسونو په څیرراکش شوي دي . هغوي په شوق نه جنګیږي ، دهغوي دجګړي عامل یو دردوونکي راز دي چي ډېر احمق به وي چي وربانديي ونه پوهیږي .

له هغوي نـه پـه خـپلو کورونو میندي اوپلرونه پـه سروسترګوپاتي دي، هغوي تـه خـپلي مومني میرمني او معصوم تنکي اولادونه دخواری اوپریشانی په یـوه دردناك عالم کي منتظردي.

خوافسوس چي ملاصاحـب خـیرالله «خیرخواه» دي ته متوجه نه دي ، فکرکوي چي ګڼي دادسره روسي پوځ پاتي مړي دي دملاصاحب پدي سوج چي هرڅومره تأسف وشي جوازلري اودي اوملګري یې چي څومـره ژر له دي سوچ اوخبري نه واوړي همدومره ئي په خبرده .

عقاب جنگی برفراز هندوکش

ترجمه: حامد

تذکرمترجم :

ایوب یونس درمقاله ای تحت عنوان «عقاب جنگی بر فراز هندوکش (Eagle Fighting over Hindu Kush)» که درشماره شنبه ۱۹۹٦/۱۲/۲۸ روزنامه انگلیسی لسان نیوز انترنیشنل (The News Int,l) بچاپ رسیده است ، تحلیل میکند که جنگ کنونی افغانستان در واقع جنگ بالواسطه ایست که قدرتهای دخیل درمعضله، افغانستان بخاطرحفظ یا بدست آوردن منافعی در افغا نستان براه انداخته وتشدید کرده اند .

قبل ازمطالعه ترجـمه، دری این مقاله، توجه خوانندگان عزیز شهادت را به نکات ذیل جلب میکنیم :

۱- بگفته ، نویسنده این مسئله خیلی سؤال برانگیزاست،درایامی که طالبان همچون صاعقه برهرشهر ولایت افغانستان نازل میشوند وعلی الخصوص دریك تحول محیرالعقول کابل نیز بدست آنان سقوط کـرده اسـت ، تمـامی جنگ سالاران و قوماندانان وتفنگداران شان درحال فرارازمنطقه هستند، سران فرقه اسمعیلیه مصروف انعقاد پیمان بایك شرکت امریکایی جهت تفحص و ا ستخراج معدن طلا هستند امروزچاره ای نیست جز اینکه پاسخ اینگونه سؤالات را به مرور زمان احاله کنیم .

۲ - سلسله جـبال درداخـل افغانستان نیز امتداد دارد ، و اصلاً از افغانستان آغازمیگردد .

۳ - اتحاد سه حزبی موسوم ، به «شورایعالی دفـاع ا ز افغانستان » مشتمل است بر انجنیراحمدشاه مسعود ، عبدالکریم خلیلی رهبرحزب وحدت اسلامی افغانسـتان وجنبـش ملی اسلامی افغانستان برهبری جنرال عبدالرشید دوستم .

٤- حزب اسـلامی افغانستان براستی بهاي باصطلاح کله شقی خود را در برابر واشنگتن دریافت داشته است . اما به طلباء کرام باید عرض کرد که مبادا خود را حزب اسلامی تصور کنند. باید به طلباء کرام یاد آوری کرد که :

جنبش طالبان بـا این ناپختگي سیاسی وفقدان کدر ورزیده و مجرب، تاب حتی یك ضربه ، امریکا نه ، بلکه تاب مقاومت را در برابـر یك امپلق متحدین منطقوی واشنگتن نیزنخواهد آورد . نیرویی که همزمان مورد حمله، چند جناحی دو ابرقدرت وقدرتهای منطقوی قرارگرفته ولله الحمد تا هنوز در صحنه حضور فعال وغیرانکار دارد ، حزب اسلامی افغانستان است .

امید است که طلباء کرام درك کنند که «پردی کـت ترنیموشیووی!» وبه وساوس و دساتس بیگانگان پشت پازده بخاطرمصالح علیای ملت مسلمان افغان وامت مسلمه ، راه مصـالحه بامجاهدین در پیش گـیرند کـه ذات اقدس احدیت (ج) آنانرا وسیله، دفع تجاوز دشمن ملحـد ، فلج گردانیدن ماشین جنگی پکت وارسا وشکست کمونیزم جهانی گردانید . گرچه دراین رابطه و باتوجه به موقف طالبان ، هیچ روزنه، امیدی بچشم نمی خورد . امـا ، این آرزو بامید تحقق عاجـل ، در دل همه آنانیکه خواستار اعاده، صلح و ا منیت واستقرارحکومت اسـلامی در افغانستان هستند، باگـذشت هرلحظه، قوت بیشتری می یابد . ترجمه، دری این مقاله را باهم میخوانیم .

عقابها معتقدند که باید دارای حق انحصاری شکار درقلمرو خود باشند . اینك ، انواع عقابها تلاش میورزند تا درین کشورجنگزده ، حـق انحصاری بازی وصیادی داشته باشند ، وازهمین جاست که معضله آغازمیگردد .

سقوط کابل عکس العمل شتاب آلودی ازجانـب کشورهای اتحاد جماهیرشوروی سوسیالستی سابق در پي داشت . درظرف چند روز فدراسیون روسیه بـه تدویر جلسه ای ازتمامی جماهیرآسیای مرکزی(ماوراء النهر) مبادرت ورزیده وبرخطرهایی که پیروزی آشکارطالبان برای آنها بهمراه خواهد داشت ، روشنی انگـند . در جلسه فیصله بعمل آمد کـه با پشتیانی از دوستم وتشکیل اتحادی با قوای ربانی -مسعود، پیشروی طالبان رامتوقف سازند. ربانی ومسعود توسط ایران و هند پشتبانی میشوند . ایـن اتحاد موضع جنرال دوستم را که علی الرغم موفقیت اولیه ، در برابر تهاجم تجدید شده ولی مصمم طالبان شروع به عقب نشینی کردند. هیچ کسی نمیداند که در ماهها وشاید سالهای آینده حوادث چه شکلی اختیارخواهندکرد . امـا ، نتائیج آن دارای پیامدهای دور رسی برای منطقه وعلی الخصوص پاکستان خواهد بود .

افغانستان دارای تاریـخ طویلی ازمنازعه اسـت . اینکشور بوسیله، سرحدات طبیعی ازبخش شمالی شبه قاره (برصغیر) جداگردانیده شده است . اما بوسیله، گذرگاههای کوهستانی ای همچون کوتل خیبروکوتل به آن اتصال می یابد . این منطقه، معبرمتجاوزین بیگانه ای چون اسکندرکبیر ونیزسقط الرأس متجاوزین محـلی ای مانند محمود غزنوی بوده است . جلگه های زراعتی دریاها ومعاونین آن ، گنگاو جمنا معارك عملیات نظامی ای بوده که سرنوشت برصغیررا رقم زده است . درمستوای وسیعتر، اتفاقات سیاسی در تمامی منطقه، ماوراء النهرافغانستان، پاکستان ، ایران ودرمستوای کوچکتری هند ، وابستگی متقابل نزدیکی باهمدیگردارند. کوههای نیرومند منطقه درشکلدهی اراضی، اقتصاد و سرنوشت کشور های واقع در دامنه های خود ، دارای نقشی محوری هستند. این سلسله جبال مشتمل است برسلسله کوههای همالیا، لداخ وقره قرم در پاکستان وهند ، تین ان(Tien Shan) وکونلون (Kunlun) در چین وقرغزستان ، پامیر درتاجکستان وازبکستان ، وهندوکش درافغانستان و پاکستان ، تمامی دریاهای بزرگ منطقه یعنی سند، گنگا، جمنا، برما پوترا ، آمو وسیرازآن سلسله جبال سرچشمه میگیرند .

دریای بزرگ چین یعنی هوانگ هو(HuangHo)ویانگسته (Yangtze) ازفلات تبت آغـاز میگردند .

تاجکستان ، ازبکستان، ترکمنستان وتاحدی قزاقستان ، ازطریق افغانستان، بلوك متممی با پاکستان و ایران تشکیل میدهند . لذا، اعجاب برانگیزنیست که تمامی این کشور ها باضافه، هند ، تلاش میورزند تا در افغانستان به اعمال نفوذ بپردازند . منطقه،ماوراء النهر ازلحاظ فزیکی و اقتصادی دو دریای بزرگ یعنی آمو دریا وسیردریا را بهم پیوند میدهد که آمودریا که یونانیان آنرا اوکسوس (OXUS) واعراب جیحون میخواندند ازدامنه های غربی پامیر درست در امتداد پاکستان درهونزه سرچشمه میگیرد . این دریا در امتداد سرحد افغانستان نخست با تاجکستان ، سپس با ازبکستان جریان داشته و درترکمنستان مسیر پرپیچ وخمی راطی کرده ودوباره وارد ازبکستان میشود تا درست شمال در بحیره ارال (Aralsea) بریزد . سیر دریا که توسط یونانیان (Jaxartes) واعراب سیحون خوانده میشود ، از دامنه های شمالی سلسله پامیر ودامنه های غربی تین شان سرچشمه گرفته و در امتداد تاجکستان ، ازبکسـتان وسرانجام قزاقستان جریان می یابد تا دربخش شمالی بحیره ارال بریزد .

درا وج شکوفایی قدرت اسلام ، ساحه ایکه ازرود سند بشمول برآمدگی ای در کرانه شرقی تا دلتای آمودریا درنزدیکی بحیره، ارال سلطنت خراسان ایالت شمالغربی سرحـدی ، حصص شمالشرقی ایـران ، بخشهای جنوبی قزاقستان و تقـریباً تمامی افغانستان قرغزستان وترکمنستان . مراکزعلمی

بقیه درستون ٦، صفحه ٤

درظرف یك هفته پس ازسقوط کابل بدست قـوای طالبان ، والی بغلان که یکی از ولایات تحـت سلطه، جنرال عبدالرشید دوستم (رهـبرجنبش ملی اسلامی افغانستان) بشمارمیرود ، قرارداد یك معامله، ۲۵ میلیون دالری را بایك گروه امریکایی جهت تاسیس شرکت عقاب -(Eagle Enterprises) بامضاء رسانید . هـدف ازتاسیس این شرکت کاوش واستخراج طلا در ولایت بغلان است . ظاهـراً ، اسم «عقاب» نـوعی ارتباط با «قصرکیان» جعفرمنصوری والی خود نمای ولایت بغلان (که رهبری فرقه خاله، اسمعیلیه را درین منطقه بعهده دارد)،مشیدکیان قصرش را بشکل یك عقاب بالگسترده برفرازیك تپه اعمارکرده است .درین قصرتمامی وسائل مدرن وعصری عیاشی مانند حوض آببازی ، یك بار مملـوء ازمشروبات الکولی ویك سالون بزرگ نشیمن ، واقع درکله، عقـاب، وجـود دارد، برعکس چند بیلیون دالـری که برسرزبانهاست ، درظـرف چند روز چهاربال هلیکوپتر(چرخبال) به منطقه رسیده و کار بـر «پروژه»آغازگردید. ناظرین اوضاع از زمانگذاری وسرعت کار پروژه متعجـب گـردیده علی الخصوص ازین بابت کـه در آن زمان تصورمیرفت درظرف چـند روز ، بقیه، ولایات در برابر فشارطالبان سقوط خواهند کرد .

اما در افغانستان ،هیچ چیزی تحیر آفرین نیست .درین کشور حدود پنجاه آژانس خـارجی آزادند تا به میل خود هرکاری را ازکمکهای واقعی بشری گرفته تا فعالیتهای خالص استخباراتی انجام دهند . کارکنان مؤسـسات کمکرسانی خارجی ، از هرقماشی که اند ، افغانستان را برسائرساحات آفتزده، جهان ترجیح میدهند . جـدا از آزادی عمل ، افغانستان دارای یك جاذبه، رومانتیك آمیخته با هیبت وترس است ، کما اینکه این سرزمـین در گذشته برای عساکر راج (حکومت برطانیوی هند)نیزدارای این خصوصیت بود . عقاب کـیان ،کـه به هیچ وجهی تنهاعقاب بالگسترمنطقه بشمارنمیرود ، سمبول وثنا د معمای لاینحل کنونی افغانستان بحساب میآید.

جماعت اسلامی پاکستان وسیاست انتخابات !

نظری بـه موقـف تحـریـم انتـخابات تـوسـط جماعـت اسلامی

نوشته: ثروت جمال"اصمعی" ترجمه : احمدضیاء " رحیمزی "

قسمت دوم

به نظرمان جماعت اسلامی ، تبدیلی ایراکه بعد از تشکیل کشور پاکستان ، درخط مشی خـود برای تحکیم یك نظام اسلامی مطابق اقتباس فوق بوجود آورد، آنرا نمیتوان بصورت کامل بدون نتیجه تلقی کرد ولی بهرصورت حامل نتایج قطعی نیزنبود .

این روش تا ایـن حد مفید بود که امروز ما دارای یـك قانون ا ساسی هستیم که باعملکرد واقعی برآن ، یك اجتماع مسلمان درایـن سرزمین بوجود آمده میتواند. و ایـن موفقیـت به هیچ صورت یـك موفقیت کـوچـك نیست .

ولی تاجائیکه موضوع به انقلاب اخلاقی و تمـدنی ارتباط می گیرد ، اوضاع موجوده برای جماعت اسلامی پاکستان گردد .

به نظرما علت این وضع آنست که جماعت اسلامی با وجـود درك غیر اسلامی بودند کامل طریقه انتخابات مروج ، باوجود وضاحت بسیار روشن نقایص آن ، وباوجود ارایه کردن طریقه موثر برای همنواساختن ایـن روش انتخابات باتعلیمات قـرآن وسنت بالاخره ایـن نظام انتخاباتی مبنی برحرص اقتدار را پذیرفت .

> این حقیقت بجای خود ثابـت است که خدمتی که با خطـرات ، نقصانات وتکالیف همراه باشد ، آمادگی برای آن بدون شك می تواند علامه یك احساس خالص خدمت گـذاری باشـد ، مگر درجائیکه خدمت، دولت وحکومت باهم یکجاباشند ، درآنجا باکاندید ساختن خود امکانات اخـلاص خـیلی کـم و امکانات حـرصي وطمع بسیارزیاد میباشد .

نتایج حاصله به این ارتباط معکوس است . ا مروز جامعه پاکستان نسبت به گذشته ازمعیارهای بلند اخلاقی خیلی دورگشته فرق بین حلال وحرام ازبین رفـته ، ترس ازخداوند وخوف آخرت بالعموم درزندگي عملی به نظرنمی رسد وباوجود اخلاق مطمئین ، هـیچ فردی ازآسیب خیانت وبی ضمیری محفوظ مانده نمی تواند.

اینکه چراباوجود کسب موفقیت نمایان درسطح قانونی بـه حوالۀ اسلام ، نتایج معکوس ایـن روش در سطـح اجتماعی رونماگردید؟ سوالیست قابل غور که جواب درست آن ، میتوانـد باعث تعین خط مشی سالم درحالات و درنتیجه آن نه تنها قاطع بودن جماعت اسلامی بـه حواله اسلام در انظار مردم عامه مشکوك گشت ، بلکه برمزاج وکردار داخلی آن هم اثرات منفی ایرا مرتب ساخت .

مولانامودودی مرحـوم درسال ۱۹۵۰میلادی دریك تحریرفکرانگیزخود تحت عنوان «مبارزه انتخاباتی جماعت اسلامی -مقاصد وطریق کار»، اساس نظام انتخاباتی مـروج ، و طـرح کاندیدا توری انفرادی و حـزبی را کامـلاً غیراسلامی و مرکـز فتنه قرارداده ، راه متبادل پیش کش نموده می نویسد:

«راه هاوطرق انتخابات را کـه ما از باداران واستادان اسبق غربی خویش فراگرفته ایم ، ریشـه فتـنه درآن ، موضوع کا ندیـداتوری اسـت ، کاندیدا توری درحقیقت اتم دوم هوس حکومت ، حرص اقـتداروقدرت است. کاندیداتوری بجای خود دلیلی ا ست براین امر که شخص یا گروهی که بحیث کاندیدروی صحنه مـی آیـند ، بجای اندیشیدن بـه مسؤلیت های خطیر وسنگـین حکومت داری ، روی فواید و منافع مادی آن نگاه دارد . در دور کنونی می خواهند این حقیقت کثیف را در پرده الفاظ خوشنماپیچانند ، ومی گویند مامی خواهـیم برای هرچه بهترشدن وضع ملت وکشورخود کارکنیم ، ما برای این خود را کاندید سا خته ایم که اگرما این کار را انجام ندهیم ، افراد نالایق و نااهل ا نتخاب خواهند شد ، ما پـروگرامی برای ترقي واصلاح داریم وازملت می خواهیم که اگراین پروگرام ما مورد پسند آنها واقع شود ، برای عملی ساختن آن مارا انتخاب کنند و اینکه ملت خود چگونه میتواند افراد باعمل را ا نتخاب کند، تاوقتی که این گونه افراد خـود جلونیایند، خود وپروگرام کارخـود را درمقابل آنها نگذارند.

ولی باوجود این همه حیله ها ودلایل این حقیقت بجای خود ثابـت است که خدمتی که با خطـرات ، نقصانات وتکالیف همراه باشد ، آمادگی برای آن بدون شك می تواند علامه یك احساس خالص خدمت گـذاری باشـد ، مگر درجائیکه خدمت، دولت وحکومت باهم یکجاباشند ، درآنجا باکاندید ساختن خود امکانات اخـلاص خـیلی کم و امکانات حـرصي وطمع بسیارزیاد میباشد . ایـن نکات منفی تنها به کاندیداتوری مختص نیست ، بلکه اشخاص را که احزاب سیاسی با دادن تکت حزب خود ، کاندید می کـنند ، درموضوع کاندیداتوری آنها هم نه تنها عین نکات منفی دیده می شود ، بلکه دراین صورت دامنه نکات منفی وسعت بیشتری کـسب می کـند .درشکل کاندیدتوری شخصی ، یك فـرد تنها برای ا غراض شخصی خود کار می کند ، ولی در سیـستم کاندیداتوری احزاب ، عده زیادی ازافراد خودغرض ، بطریقه منظم برای برآورده شدن اهداف خود تپ وتلاش می کـنند . واسلام روی هـمین ا صل مخالف سیستم کاندیداتوری می باشد. دراین مـورد ارشادات خداوند متعال ورسول کریم (ص) بالکل واضع است ازجمله آنچه زندگي اجتماعی وسیاست ملی را از هـمه بیشترخراب ساخته ، یکی هـم طریقه کاندیداتوری شخصی ویا اعطای تکت یك حزب به کاندیدانتخاباتی می باشد . بنابرهمین است که جماعت ا سلامی فیصله نموده تا ریشه های این طریقه ناپاك انتخابات را قطع نمایـد .جماعت اسلامی نـه با تکت حزبی خویش کسی راکاندیدخواهد کرد ، ونـه به اعضای جماعت اجازه خواهد داد ، تا بـه حیث کاندید آزاد ، در انتخابات سهم بگیرند .»

مولانامودی (رح) بعد ازاین ، درهمین مضمون خویش می نویسد ، جماعت اسلامی به تربیه اخلاقی وذهنی مردم خواهد پرداخت ، وبه آنها خواهد گفت که مطابق معیار اسلام ، درحلقات انتخاباتی مربوط خویش اشخاصي را تلاش نمایند که درباطن آنها هیچ گونه حرص قـدرت، و خواهـش منصب وجودنداشته باشد وبصورت کامل اهلیت بدون گرفتن مسؤلیت های مربوطه را داشته باشند . جـماعت اسلامی برای براورده شدن همین اهداف آنها (مردم) را منظم خواهد ساخـت ، وبعد هم کسانی که درنتیجه این طریق کار روی صحنه می آیند ، ولو مربوط هرحزب سیاسی باشـند ، اعضـای جماعت اسلامی ، بـه کمك وتعاون مردم همه توانایی خود را برای موفقیت ایشان صرف خواهـند کرد . وبه این ترتیب نقش خـود را در راه فراهم نمودن یك قیادت دیانتدار ،لایق ومخلص برای ملت ادا خواهند کرد .

امابعداً چنان شد که جماعت اسلامی ، طریقه انتخاباتی مروج را باهمه خامی ها و نکات منفی آن همانطوریکه بود ، پذیرفت . درسـال (۱۹۵٦) همین موضوع باعث بروز اختلاف نظر بین عده بي از اعضای مؤسس وبنیان گذار

> *درسال (۱۹۷۰) جماعـت اسلامی تحـت همین نظـام انتخـابـاتی ، درجنگ انتخاباتی سهم فعال گرفت ، ولی این رای ونظر مولانامودودی درمورد این طریق کاردرست ثابت شد که مبارزه انتخاباتی بـه این شکل ، جنگ عـمده بي بداخلاق است وهمان کسی می تواند درآن کسب موفقیت کند که ازهمه بداخلاق ترباشد .*

بقیه درستون ٦، صفحه ۳

ښځه دکورنۍ او ټولنې په چاپیریال

متصدي : معصومه

زن در محیط خانواده وجامعه

تربیه

دکورنیو دروانی سلامتیا په هکله یادونه

دایوحقیقت دي چې دکورنۍ په ماحول کې دکورنۍ دغړوکړه وړه دماشوم په روزنه اوشخصیت باندې ژوره اغیزه لـري دماشومانو رواني سلامتیا وربوري ترلې ده .

دماشوم روزنه او پالنه او دهغې دشخصیت ټاکـــنه دکورنیو دهغې حاکموفضاسره چې ماشوم په کې ژوند کولي ارتباط لري .

الف : هغه کورنۍ چې آزاده فضا په کې حاکمه وي :

په دغوکورنیوکې دیموکراسي نظام حاکم دي دکورنۍ ټول غړي دکوچنیانو څخه نیولې ترلویانو پورې ټول دخپلې کورنۍ دمسایلو په هکله نظرورکوي اودشریکواهدافو په هکله په منطقي صورت دخپل صلاحیـــت اظهارکوي دهرچادنده پـــه داسې کورنیو کې معلومه وي هریودخپل توان په اندازه دکورنۍ دښېګڼې لـپاره هلې ځلې کوي . دکورنیو دغړو ترمنځ متقابل احترام موجودوي . نودلـته دي چې ماشومان په داسې کورنیوکې دامنیت احساس کوي دخپل موجودیت څخه خوشحاله وي اوماشوم دعمرد کموالي له کبله داهانت ورنه ګرځي .

دخپلوستونزو پـه هکله دوالدینو څخه مشورې غواړي دکورنۍ دغه فضاء دماشومانو دښو استعدادونو په کاراچولوکې مهمه ثابتیږي .

ماشومان په داسې کورنیوکې دټولنیزژوند مفهوم په ښه توګه درک کولای شي اودخپلوملګروسره دصمیمیت په فضا کې سلوک کوي دهغوي درناوي کوي همداعلت دي چې ددغوکورنیو ماشومان پرته له حسادت لخه په سپورتي اودرسي رقابتونو کې برخه اخلي اودښوونځي په ماحول کې ډیرکم دستونزو سره مخامخ کیږي .

څرنګه په کورنۍ په آزاده توګه خپل نظرڅرګنده وي نودکورڅخه بهرپه ټولنه کـې هم کولای شي خپل نظرښکاره کړي اوهمداشان دنورو واوري اوخپل هدف ته درسیدلو لپاره په نورو باندې دحملې اوتیري په فکرکې نه وي، نوپه داسې کورنیو کې څرګنده ده چې دماشومانو رواني سلامتي تضمین کیږي .

ب : په هغوکورنیوکې چـې هرج ومرج یابې قیدوشرط آزادي وي .

په دغوکورنیوکې مطلـــقه آزادي حاکمه ده یاپه بل عبارت هرڅوک چې هرڅه وغواړي هغه ترسره کولای شي پرته له دې چـې نورددوي په مسایلو کې دمداخلې حـــق ولري . نوپه داسې کورنیوکې دکورنۍ غړي یودبل سره توافق نلري مثلاً که یوتن مطالعه کوي بل په جګ آوازراډیو اوري اوتلویزون ګوري .

یودبل راي اوحقوقوته کوم ارزښت نه ورکـوي دمتقابل احترام اثرات دکورنۍ دغـړوترمنځ نـه لیدل کیږي نوکوم ماشومان چې پــه داسې کورنیو کې ژوند کوي دډیرو اخلاقي اوتربیتي نیمګرتیاوسره مخامخ دي ددغو کورنیو ماشومان بې نظمه اوبې دسپلینه روزل کیږي اودټولنیزژوند سره کومه مینه اوعلاقه نلري دنوروعقایدو اونظریاتوته کوم احترام قایل نه دي دهغې ځایه چې خودخوارروزل شوي نودحسادت حس په کې وده کړي خپلوهمزولوسره سالمورقابتونوته چمتونه دي په داسې ساحه کې ډیرې ستونزې اوپرابلمونه لري زیاد وخت له ماتوسره مخامخ کیږي

ج : مستبدې کورنۍ :

دغه شان کورنۍ دیوتن لخوا چې دکورنۍ په راس کې قرارلري اداره کیږي چې دغه رئیس دکورنۍ پلاریا دکورنۍ بل مشر فرد وي همداشان کله کله موروهم دکورنۍ دمشرۍ دنده په غاړه اخلي نوپه داسې کورنیو دکورنۍ نورغړي دنظرډښکاره کولو حق نلري اونه هم داداري صلاحیـــت ، دکورنۍ مشردې چې تصمیم نیســي او دنورو دندې ټاکي دکورنۍ دغـــړو ډیر خصوصي مسایل دمشر لــــه خوښې پرته صورت نه نیسي دخوراک څښاک لباس تفریح استراحت حتی تر زده کړې اوتحصیلي رشتې پورې ټول دمشر په اختیار اوفرمان "رسره کیږي .هیڅوک یې په مقابل کې دودریدو جرأت نه کوي .

همدارنګه پـــه داسې کورنیو کې روزل شوي ماشومان پـــه ظاهرکې داطاعت اوتسلیم روحیه لري خوپه واقعیت کې اضطرابي اوهیجاني حالت لري . ویریدونکي ، بزدله اوپریشانه اودمختلفو عقدولرونکي دي . همیشه دحقارت احساس کوي دخپلوهمزولو سره ښه اوغوره سلوک نه لري همیشه جنګ جګړوته تیـــاروي په ټولنیزو فعالیتونو کې له ګډون څخه ځان ساتي څرنګه چې خپل نظریات چاته نشي څرګنده ولی نوهمیشه په ژوند کې دبې کفایتي اوسست عنصري څخه رنځ وړي دزده کړې په جریان کې له ډیروستونزو سره لاس اوګریوان وي.

نوداڅرګنده ده چې دکورنیودغړو په تیره بیا دوالدینوکړه وړه دماشومانو په شخصیت اوروحیاتو ژوره اغیزه لري نولازمه ده چې دکورنۍ ټول غړي دغه مسئله په پام کې ونیسي اودکورنۍ په ماحول کې داسې فضارامنځ ته نکړي چې دکورنیو دغــړو پـــه تیره بیا دماشومانو رواني سلامتیاته پــه کې زیان ورسیږي .

مصرف وضرر ویتامین

حاملګي ازمصرف هرنوع ماده حاوي ویتامین A پرهیزکنند ودرصورت ضرورت مصرف ، تحت نظرداکتر ازآن استفاده شود. تااکنون ګزارشي حاکي ازاثرسوء مصرف ویتامین A باشـــد در زنان باردارانګلیس مشاهده نشده ولي درخارج ازاین منطقه ، ضررهاي استفاده بي جاواضافه ازویتامین A بسیاربوده است . وزارت بهداشت انګلیس به زنان حامله

دانشمندان انګلیسي معتقدند ویتامین (A) موجود درتابلیت مولتي ویتامین براي زنان حامله دار مضـــر است. این ویتامین ها دربدن ذخـــیره مي ګردد للا براي زن حامـــله ضرردارد. داکتران متخصص بـــه زنان حامله دارتوصیه میکنند مخصوصاً درنخستین ماههاي

موکداً توصیه نموده ازمصرف جګرکه داراي ویتامین A مي باشد خودداري کنند .

بـه نظرمتخصصان علوم پزشکي حداکثر میـــزان مجاز ویتامین دردوره حاملګي ۲٤۰۰ تا ۳۰۰۰ میکروګرام است . زنان حامله باید بیش ازاین مقدار ازخوردن غذاهاي ویتامین دار خودداري کنند . ویتامین A درروغن ماهي، زرده تخم مرغ ، کره ، شیروجګر وجود دارد. علاوه برمنابع حیواني، سبزیهاي برګ دارتیره وزرد رنـــګ ماننده ګل ګلپي،

زردک ، کاهـــو و بادنجان رومي نیز داراي ویتامین A هستند .

##

دمور په شیدو تغذیه

دمور شیدې دماشوم لــه پاره ترټولوښه خواړه اوڅښاک دي، ماشوم دعمرپه لومړیو شپږو میاشتوکې دمور له شیدوپرته نورو خوړوته اړتیا نلري دمورشیدې دماشوم دپیداکیدو له شېبې څخه ترکابو شپږو میاشتو پورې یوازینې خواړه اوڅښاک دي چې ماشوم ورته اړتیالري ، نورخواړه لکه دغوا شیدې ، وچې شیدې او له غلودانو څخه جوړشوي خواړه ، د مور دشیدو په پرتله لږاهمیت لري .

حتی په توده اووچه هواکې هم دماشوم دارتیاو پوره کولو لــه پاره دمورشیدې کافي اندازه اوبه لري، نوري اوبه اوڅښاک نه یوازې دماشوم دتندې ماتولو له پاره په کار ندي بلکې زیانمن ورته هم دي، که ماشوم ته اوبه یاپه اوبوکې جوړشوي نورڅښاک ورکړشي ښائي په نس ناستي اونورو ناروغیو باندې داخته کیدلو خطرني زیات شي .

هغه ماشوم ته چې کابوشپږمیاشتي عمرولري دنورو خوړو اوڅښاک ورکول ورته ضروري دي، که دشپږومیاشتو څخه دکم عمره ماشوم وزن په ښه شان نه زیاتیږي، ښائي چې ماشوم دمور دشیدو زیات رودلوته اړتیاولري،که چیرې ماشوم ته لادمخه ژرژرتي ورکول کیږي خووزن ئې بیاهم نه زیاتیږي نوکیدای شي چې ماشوم کومه ناروغتیا ولري اویاداچې اوس نوهغه دمـــور دشیدو ترڅنګ نورو خوړوته هم اړتیالري .

دعمرترنهو یالسو میاشتو پړې باید ماشوم ته دنورو خوړو دمخه دمورشیدې ورکړل شي دموریه شیدو تغذیه باید دعمرتردوهم کاله پورې، اوکه امکان ولري په دوهم کال کې هم تردیره وخته دوام ورکړل شي .

دنوي ماشوم تغــذیه چې څومره امکان ولري باید چې دموریه شیدو پیل شي، په حقیقت کې هرمور کولای شي چې خـــپل ماشوم تــه شـــیدې ورکړي .

میندې اونوي زیږیدلي ماشومان باید په بیلابیلوکوټوکې ونه ساتل شي، هرکله چې ماشوم و غـــواړي باید دمورتي رودلوته پریښودي شي اوباید ماشوم ته دمور له شیدو پرته نورخواړه ورنکړل شي، له زیږیدو څخه وروسته چې ماشوم څومره ژر ژر دمورشیدې ورودي دمورشیدې ئې زیاتیږي ، ماشوم ته دمورشیدې ورکول دهغه دزیږیدونه وروسته باید ترېوه ساعته زیات ونه ځنډول شي هغه ژیړونکي ټینګې شیدې (کنداتي) چې مـــورتي د ماشـــوم دزیږونونه وروسته پـــه څـولومړیو شپږوورځوکې تولیدوي دنوي زیږیدلي ماشوم له پاره ډیرې ګټورې دي، دغه شیدې قوي دي او ماشوم له ناروغیو څخه ساتي، پـــه ځینو ځایوکې هغومیندوته چې ماشوم ئې زیږولي وي ویل کیږي چې له زیږونې نه وروسته ټینګې شیدې (کنداتي) خپل ماشوم ته ورنکړي دایــــوه غلطه مشوره اوسپارښتنه ده .

دتي ورکولو په وخت کې دماشوم دنیولو حالت ډیرمهـــم دي دماشوم نامناسب حالت کـــیداي شي دلاندینو ستونزو دراپیداکیدو سبب شي .

* دتیودڅوکو خوږیدل یاچاودیدل دشیدوکمیدل
* تي نه رودل .
* دتي ورکولو په وخت دماشوم دنیولو سم حالت دالاندې نښې لري :
* دماشوم بدن په بشپړه توګه دمورخواته وراوښتي وي،
* ماشوم دمورتي پــه اوږده سااوږوره توګه روي .
* ماشوم آرام اوخوشحاله وي .
* دمورتي څوکه درد نکوي .
* تقریباً ټولې میندې کولای شي پوره اندازه شیدې تولید کړي که ماشوم تي په سمې توګه په خوله کې ونیسي .
* ماشوم هروخت اوهرڅومره چې وغواړي دمورتي په خوله کې ونیـسي اووي روي البته دشپې له خواهم .
* ژړا پدې مانا نده چې ګواکې ماشوم له شیدونه پرته نوروخوړوته اړتیالري معمـــولاً ماشومان دمورتي دخپلې آرامتیا له پاره روي که ماشوم وږې وي دمــــوردتي زیات رودل دډیروشیدو دتولیدولوسبب کـــیږي که کومه ښځه کمې شیدې لري اوخپل ماشوم نه شي مړولي هغه باید ښه خوراک اوجوسونه اوشیدې وڅښي .

دموریه شـــیدو تغـــذیه ، ماشومان له خطرناکو ناروغیو څخه خوندي ساتي، دشیدوله بوتل څخه کاراخستل دسختو ناروغیو او مړینې سبب ګرځي .

دمورشیدې دماشوم له پاره لومړني وقایه ګڼل کیږي، دمور شیدې ماشوم دنس ناستي ټوخي، یخنی وهلو اونورو عامو ناروغیو څخه خوندي ساتي، داډول وقایه اوخوندي ساتنه هغه وخت ترټولو زیاتوي کله چې ماشوم دعمر پــه لومړیو شپږو میاشتوکې یوازې دمــــور په شیدوتغذیه شي .

دغواشیدې ، وچــې شیدې فرني اونورخواره نشي کـولای ماشوم دنس ناستي، ټوخي، یخني وهلـــو اونورو ناروغیوڅخه وساتي .

دتغذیه له پاره دشیدوله بوتل څخه کاراخستل دخیټوناروغیولکه اسهال سبب ګرځي، مګرداچې دایشول شوو اوبوڅخه کارواخستل شي اودبوتل سر(چوشک) دمخه په اشیدونکو اوبوکې تعقیم (پاک) شوي وي . هرڅومره چې ماشوم ډیرناروغ شي په سوء تغذیه ئې اخته کیدل زیاتیږي، لدې کبله نه هغو ځایونوکې چې صحي پاکې اوبه کښته هغه ماشوم چې دشیدو په بوتل به کیږي داسهال په ناروغي اخته ر اودمړینې امکان دهغه ماشوم په پرتله ډیر زیات دي کوم چې ترشپږو میاشـتو پورې یوازې دمورشیدې خوري .

له میندو سره باید مرسته وشـي چې خپلوماشومانوته تي ورکړي ، که چیرې مور دځینو دلیلونوله کبله نشي کولی چې خپل ماشوم ته تي ورکړي باید له هغې سره دنوروماشیو لاروپه موندلوکې مرسته وشي چې خپل ماشوم ته ښه خواړه ورکړي اوله ناروغیوڅخه ئې وساتي دهغه ماشوم له پاره چې دځینو عذرونو له کبله نشي کولی دمورله تـي څخه شیدې وروي ترټولو ښه او په زړه پورې خواړه هغه شیدې دي چـې د مور له تیوڅخه لوشل شوي وي، دغه ډول شیدې باید په ډیره پاکه پیاله کـې ورکړل شي، اودپیالې څخه کاراخسـتل دشیدو دبوتل په پرتله ښه دي داځکه چـې دپیالې پاک ساتل ډیرآسانه دي .

